# MS EXCEL 2016

## په پښتو ژبه

لیکونکی: محمدنور مسلم

mnoormuslim@gmail.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Microsoft Excel 2016

مایکروسافټ ایکسېل د مایکروسافټ افیس له پروګرامونو څخه دی، چې د مالي محاسباتو، د عوایدو او لګښتونو د شننې او تجزیې، د چارټونو جوړولو، د ریاضي د محاسباتو او جدولونو جوړولو لپاره تري ګټه اخیستل کیږي. دا پروګرام د سختو او مغلقو ریاضیکي محاسبو د ترسره کولو وړتیا لري، چې په همدې دلیل د مالي او احصایوي محاسباتو له بنو او کارنده پروګرامونو څخه ګڼل کیږي.

د ایکسېل پروګرام ځینې اصطلاحات:

Workbook: د ایکسېل پروګرام فایل ته Workbook ویل کیږي.


Worksheet: د ایکسېل پروګرام یوې صفحې ته Worksheet ویل کیږي یا Worksheet د Rows او Columns له یوځای والي څخه لاسته راځي.

Rows: د Worksheet په داخل کې د پرتو (افقي) Cells مجموعې ته Rows ویل کیږي، چې هره Row په عدد سره نښودل کیږي.

Columns: د Worksheet په داخل کې د ولاړو (عمودي) Cells مجموعې ته Columns ویل کیږي، چې هر Column د انګلیسي په الفبا توري سره نښودل کیږي.

د ایکسېل پروګرام د خلاصولو لارې:

- ☞ Start Menu ➔ All Program ➔ Excel 2016
- ☞ RUN (⊞ + R) ➔ Write in Text Box (Excel)
- ☞ Start menu ➔ Write in Search box ➔ Excel ➔Enter



(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ایکسېل پروګرام صفحه:**

1) **File Tab**: د فایل مربوطه کمانډونه کې موجود دي.
2) **Quick Access Toolbar**: هغه کمانډونه چې په تکراري ډول کارېږي، دې برخه کې دي، چې په خپله خوښه هم ورته اضافه کېږي.
3) **Ribbon**: په Ribbon کې Tabs یا Menus دي، چې Tabs کې بېلا بېل کمانډونه موجود دي.
4) **Ribbon Group**: د سره ورته کمانډونو مجموعې ته ویل کېږي.
5) **Formula Bar**: د قېمتونو، فورمولونو او لیکنې د لیکلو او تغیرولو لپاره کارېږي.
6) **Worksheet**: د Rows او Columns له یوځایوالي څخه لاسته راځي یا د Excel پروګرام یوې صفحې ته Worksheet ویل کېږي.
7) **Status Bar**: د موجوده Worksheet په اړه معلومات ښکاروي.

# فایل ټب (File Tab)

له نوم څخه یې ښکاري چې د فایل اړوند کمانډونه په کې موجود دي، د فایل ټب کمانډونه په لاندې ډول دي:

**Info, New, Open, Save, Save as, Print, Share, Export, Close, Account, Options**

**Info**: په Info کې د فایل پر اړه معلومات ښکاري، چې لیکوال یې څوک دی، د فایل اندازه څومره ده او دا ډول نور معلومات. د دې ترڅنګ له Info څخه فایل ته Password هم ورکول کېږي.

**New**: له New سره نوی فایل (New Workbook) خلاصیږي.

**Open**: له Open سره د ایکسېل پروګرام هغه فایل چې په کمپیوټر کې ذخیره وي خلاصیږي.

**Save**: له Save سره خلاص شوی فایل په کمپیوټر کې ساتل (ذخیره) کېږي.

**Save As**: له Save As سره خلاص شوی فایل په بل نوم یا ډول (Type) سره ساتل کېږي.

**Print**: له Print سره خلاص شوی فایل (پر کاغذ باندې چاپ) کېږي.

**Share**: فایل د برېښنالیک (Email) په مرسته له بل چا سره د شریکولو یا یوې وېب پاڼې (Website) ته د پورته کولو لپاره کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Export:** د Export د فایل د ډول بدلولو لپاره کارول کیږي، د بېلګې په ډول PDF یا XPS ته بدلول.

**Close:** د خلاص شوي فایل د بندولو لپاره کارول کیږي.

**Account:** د Account په مرسته له مایکروسافټ حساب (Account) شخه په MS Excel کې ګټه اخیستل کیږي.




**Options:** د MS Excel پروګرام ټول تنظیمات د Option په مرسته برابریږي.

**Home Tab**

د Clipboard ګروپ:


**Paste:** د Paste په مرسته د Clipboard (Cut یا Copy شوي) لیکنه کلیک شوي ځای ته وړل کیږي.

**Clipboard:** په Clipboard کې ټولې هغه لیکنې چې Cut یا Copy شوي وي ښکاري.

**Cut:** د Cut په مرسته انتخاب شوي لیکنه له خپل ځای څخه لیرې او Clipboard ته وړل کیږي.

**Copy:** د Copy په مرسته انتخاب شوي لیکنه په خپل ځای هم پاتې کیږي او Clipboard ته هم وړل کیږي.

**Format painter:** د Format painter په مرسته د انتخاب شوي لیکنې Style یا Design بلې لیکنې ته هم وړل کیږي.




د Font ګروپ:

**Font:** د Font په مرسته انتخاب شوي لیکنې ته د خوښې شکل (Style) ورکول کیږي.

**Font Size:** د Font Size په مرسته د غوره شوي لیکنې اندازه لویه او کوچنۍ کیږي.

**Increase font size:** د Increase font size په مرسته د غوره شوي لیکنې اندازه په ترتیب سره غټیږي.

**Decrease Font Size:** د Decrease Font Size په مرسته د غوره شوي لیکنې اندازه په ترتیب سره کوچنۍ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Bold:** د Bold په مرسته انتخاب شوي لیکنه ډبلیږي.


**Italic:** د Italic په مرسته انتخاب شوي لیکنه کږیږي.

**Underline:** د Underline په مرسته د انتخاب شوي لیکنې لاندې کرښه راځي.

**Border:** د Border په مرسته Cell ته چوکاټ (Border) ورکول کیږي.

**Fill Color:** د Fill Color په مرسته د Cell شاه (Background) ته رنګ ورکول کیږي.

**Font Color:** د Font Color په مرسته له انتخاب شوي لیکنې ته د خوښې رنګ ورکول کیږي.




**د Alignment ګروپ:**

**Top Align:** د Top Align په مرسته لیکنه د Cell په پورته برخه کې راځي.

**Middle Align:** د Middle Align په مرسته لیکنه د Cell په منځ کې یعنې د پاس او لاندې خوا ترمنځ راځي.

**Bottom Align:** د Bottom Align په مرسته لیکنه د Cell په لاندې برخه کې راځي.

**Align Left:** د Align Left په مرسته لیکنه د Cell په کیڼ لوري کې راځي.

**Center:** د Center په مرسته لیکنه د Cell په منځ کې راځي.

**Align Right:** د Align Right په مرسته لیکنه د Cell په ښي لوري کې راځي.

**Orientation:** د Orientation په مرسته د Cell په منځ کې د لیکنې طرف (عمودي، افقي او نور) ټاکل کیږي.

**Decrease Indent:** د Decrease Indent په مرسته لیکنه د Cell له Border سره نږدې کیږي.

**Increase Indent:** د Increase Indent په مرسته لیکنه د Cell له Border څخه لرې کیږي.

**Text Direction:** د Text Direction په مرسته د لیکنې د پیل لوری ټاکل کیږي.

**Wrap Text:** Wrap Text اوږده لیکنه چې په Cell کې پوره نه ښکاري، په څو کرښو ویشي، ترڅو په Cell کې پوره ښکاره شي.


**Merge & Center:** Merge & Center انتخاب شویو Cells څخه یو Cell جوړوي او لیکنه یې د Cell منځ کې لیکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د Number گروپ:**

**Number Format: د Number Format په مرسته د Cell د لیکنې لپاره ډول (Data Type) غوره کیږي، د مثال په ډول: فیصد، پولي واحد یا وخت او نیټه.**




**General: مشخص ډول نه لري.**

**Number: د عددونو لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Currency & Accounting: د پولي واحد د لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Short & Long Date: د لنډ او اوږد تاریخ د لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Time: د وخت د لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Percentage: د فیصدي (سلنې) لپاره کارول کیږي.**

**Fraction: د کسرونو لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Scientific: د عددونو په علمي طریقه لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Text: د لیکنې لیکلو لپاره کارول کیږي.**

**Accounting Number Format: د Accounting Number Format په مرسته د پولي واحد ډول انتخابیږي.**

**Percent Style: د Percent Style په مرسته عددونه د سلنې (فیصدي) په ډول ښودل کیږي.**


**Comma Style: د Comma Style په مرسته لوی عددونه په مختلفو برخو (مرتبو) وېشل کیږي. د بېلګې په ډول د سلیز برخه، د زریز برخه، د ملیون برخه او داسې نور.**

**Increase Decimal: د Increase Decimal په مرسته د عددونو اعشاري برخه زیاتیږي.**

**Decrease Decimal: د Decrease Decimal په مرسته د عددونو اعشاري برخه کمیږي.**

**د Styles گروپ:**

**Conditional Formatting: د Conditional Formatting په مرسته انتخاب شویو Cells ته د شرط په اساس ډیزاین ورکول کیږي.**




**Highlight Cells Rules:**

**Greater Than: له لیکل شوي عدد څخه لوړ عددونه په نښه کوي.**

**Less Than: له لیکل شوي عدد څخه کوچني عددونه په نښه کوي.**

**Between: د لیکل شویو عددونو ترمنځ عددونه په نښه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



Equal to: له ليکل شوي عدد سره مساوي په نښه کوي.

Text that Contains: ليکل شوې ليکنه يا عددونه په نښه کوي.

A Date Occurring: په ليکل شويو تاريخونو کې مشخص تاريخ په نښه کوي.

Duplicate Values: تکراري ليکنه يا عددونه په نښه کوي.

Top/Bottom Rules:

Top 10 Items: په ليکل شويو عددونو کې لس لوړ عددونه په نښه کوي.

Top 10 %: د ټولو عددونو لس فيصده لوړ عددونه په نښه کوي.

Bottom 10 Items: په ليکل شويو عددونو کې لس کوچني عددونه په نښه کوي.


Bottom 10 %: د ټولو عددونو لس فيصده کوچني عددونه په نښه کوي.

Above Average: د ټولو عددونو له مجموعي اوسط څخه لوړ عددونه په نښه کوي.

Below Average: د ټولو عددونو له مجموعي اوسط څخه کوچني عددونه په نښه کوي.

Format as Table: د Format as Table په مرسته انتخاب شويو Cells ته د جدول ډيزاين ورکول کيږي.

Cell Styles: د Cell Styles په مرسته انتخاب شويو Cells ته د خوښې ډيزاين ورکول کيږي.





د Cells ګروپ:

Insert: د Insert په مرسته فعال Sheet ته Cells, Rows, Columns او يا نوی Sheet زياتيږي.

Delete: د Delete په مرسته له فعال Sheet څخه Cells, Rows, Columns او يا هم پوره Sheet لرې (Delete) کيږي.

Format: د Format په مرسته د Rows او Columns اندازه برابريږي، Sheet منظميږي، Cells پټ او خوندي کيږي او دا ډول نور.




د Editing ګروپ:

AutoSum: د AutoSum په مرسته د انتخاب شويو Cells د عددونو مجموعه ښکاري.

Average: د انتخاب شويو Cells د عددونو اوسط معلوموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Count Numbers: د انتخاب شویو Cells د عددونو شمېر معلوموي.**

**Max: د انتخاب شویو Cells د عددونو لوړ عدد معلوموي.**

**Min: د انتخاب شویو Cells د عددونو کوچنی عدد معلوموي.**

**Fill: د Fill په مرسته لیکنه په انتخاب شوې ساحه کې تکرارېږي.**

**Across Worksheet: د Across Worksheet په مرسته د یوه Sheet معلومات نورو شیټونو ته Copy کېږي.**

**Clear: د Clear په مرسته له Cell څخه لیکنه، ډیزاین، نظر، لینک یا نور لرې کېږي.**

**Clear All: د Clear All په مرسته له Cell څخه لیکنه، ډیزاین، نظر، لینک او نور ټول لرې کېږي.**

**Clear Formats: د Clear Formats په مرسته له Cell څخه یوازې ډیزاین لرې کېږي.**

**Clear Contents: د Clear Contents په مرسته له Cell څخه یوازې لیکنه لرې کېږي.**

**Clear Comments: د Clear Comments په مرسته له Cell څخه نظر (Comments) لرې کېږي.**

**Clear Hyperlinks: د Clear Hyperlinks په مرسته له Cell څخه یوازې لینک لرې کېږي، خو ډیزاین یې پاتې کېږي.**

**Remove Hyperlinks: د Remove Hyperlinks په مرسته له Cell څخه لیکنه، ډیزاین، نظر، لینک او نور ټول لرې کېږي.**

**Sort: معلومات د ډیکشنري پر اساس یا یې برعکس منظموي.**

**Filter: معلومات چاڼ (تصفیه) کوي. یعنې کوم معلومات دې ښکاره شي او کوم دې نه ښکاري.**

**Find: د Find په مرسته په خلاص شوي فایل کې یو توری یا کلمه کتل کېږي.**

**Replace: د Replace په مرسته په خلاص شوي فایل کې یو حرف یا کلمه په بل حرف یا کلمه بدلېږي.**

**Go To: فایل کې یو مشخص ځای ته د تګ لپاره کارول کېږي.**

**Select: د لیکنې یا تصویرونو د انتخابولو لپاره کارول کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library







# Insert Tab

د Tables ګروپ:

Pivot Table: د Pivot Table په مرسته د انتخاب شوي جدول (Table) لنډیز (خلاصه) برابریږي.

Recommended Pivot Tables : د Recommended Pivot Tables په مرسته تیار جوړ Pivot Table راوستل کیږي.

Table: د Table په مرسته انتخاب شوي ساحه جدول ته بدلیږي یا جدول جوړیږي.





د Illustrations ګروپ:

Pictures: د Pictures په مرسته فایل ته تصویر راوستل کیږي.

Online Picture: د Online Picture په مرسته له انټرنیټ څخه فایل ته تصویر راوستل کیږي.

د Adjust ګروپ:




Remove Background: د انځور د اضافي برخې لرې کولو لپاره کاریږي.

Corrections: د انځور د روښنایي زیاتولو او کمولو لپاره کاریږي.

Color: د انځور د رنګ بدلولو لپاره کاریږي.


Artistic Effects: د انځور ډول Sketch او Painting شکل ته بدلوي.

Compress Pictures: د انځور د حجم کمولو لپاره کاریږي، یعنې کیفیت یې کمزورئ کوي.

Change Picture: د انتخاب شوي انځور په ځای بل انځور راوستلو لپاره کاریږي.

Reset Picture: انځور لومړني حالت ته بدلوي. یعنې چې څومره بدلون کې راوستل شوي وي، ټول لرې کیږي.

د Picture Style ګروپ:





Picture Border: د انځور ګردچاپېره چوکاټ (Border) د سټایل، رنګ او اندازې برابرولو لپاره کاریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Picture Effect: انځور ته ډيزاين لکه: سورى، انعکاس، شاوخوا ته رنګ او دا ډول نورورکوي.




Picture Layout: په مرسته يې انځور SmartArt ته وړل کيږي.

د Arrange ګروپ:


Bring Forward: انتخاب شوی انځور له نورو انځورونو څخه د يو لېول په اندازه پورته وړي.

Bring Backward: انتخاب شوی انځور له نورو انځورونو څخه د يو لېول په اندازه ښکته وړي.

Selection Pane: له Selection Pane سره وړوکي صفحه ښکاري چې په مرسته يې انځورونه په اسانۍ سره انتخاب، له يو بل څخه مخکې وروسته وړلی او نومونه بدليږي.

Align Objects: انځور له صفحې، حاشيې يا نورو انځورونو سره منظموي.

Group Objects: څو انتخاب شوي انځورونه سره ګروپ يا يو ځای کوي.




Rotate Objects: د انځور د کړولو او سرچپه کولو لپاره کاريږي.


د Size ګروپ:

Crop: د انځور د اضافي برخې د لرې کولو لپاره کاريږي.

Height: د انځور د لوړوالي برابرولو لپاره کاريږي.

Width: د انځور د پلنوالي برابرولو لپاره کاريږي.


Shapes: د Shapes په مرسته فايل ته مختلف ډول شکلونه رواستل کيږي.




د Insert Shapes ګروپ:

Edit Shape: په انتخاب شوي Shape کې د بدلون يا يې پر ځای د بل Shape راوستلو لپاره کاريږي.

Text Box: په فايل کې د Text Box رسمولو لپاره کاريږي.




د Shape Style ګروپ:

Shape Fill: د Shape د منځ د رنګ برابرولو لپاره کاريږي.

Shape Outline: د Shape د څلور خواوو (Border) د رنګ برابرولو لپاره کاريږي.

Shape Effects: Shape ته ډيزاين لکه: سورى، انعکاس، شاوخوا ته رنګ او دا ډول نور ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د WordArt Styles گروپ:




Text Fill: د Shape د منځ د ليکنې رنګ برابروي.

Text Outline: د Shape د منځ د ليکنې د څلور خواوو رنګ برابروي.

Text Effects: د Shape د منځ ليکنې ته ډيزاين لکه: سوري، انعکاس، شاوخوا ته رنګ او دا ډول نور ورکوي.

يادونه: د Shape پاتې برخه په Picture کې روښانه شوې ده.

Smart Art: د Smart Art په مرسته بېلا بېل معلومات په تصويري يا ګرافيکي بڼه ښودل کيږي.

د Create Graphic گروپ:




Add Shape: SmartArt ته Shape اضافه کوي.

Add Bullet: SmartArt ته Text Bullet اضافه کوي.

Text Pane: د Text Pane د ښودلو او ليرې کولو لپاره کاريږي.

Promote: انتخاب شوی Shape يا Bullet يو ليول پورته وړي.


Demote: انتخاب شوی Shape يا Bullet يو ليول لاندې وړي.

Right to Left: د SmartArt د لورې ټاکلو لپاره کاريږي، يعنې له ښي که له چپ طرف څخه دې پيل شي.

Move Up: انتخاب شوی Shape يا Bullet د ليول په داخل کې مخکې کوي.

Move Down: انتخاب شوی Shape يا Bullet د ليول په داخل کې وروسته کوي.


Layout: د انتخاب شوي Shape د برخو ښودلو ډول ټاکي.




د SmartArt Styles گروپ:

Change Colors: د SmartArt Graphic د رنګ بدلولو لپاره کاريږي.

SmartArt Styles: د SmartArt Graphic ډول بدلوي، يعنې 2-D او 3-D ته يې بدلوي.




د Reset گروپ:

Reset Graphic: په SmartArt Graphic کې راوستل شوي ټول بدلونونه له منځه وړي.


Convert Shapes: SmartArt Graphic شيپ ته بدلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د Shapes ګروپ:

Edit in 2-D: SmartArt Graphic په 2-D ډول ښيي؛ هغه وخت کار کوي چې سمارټ ارټ 3-D شکل ته اوښتی وي.





Change Shape: د انتخاب شوي Shape شکل بدلوي.

Larger: د انتخاب شوي Shape اندازه غټوي.

Smaller: د انتخاب شوي Shape اندازه وړوکې کوي.


يادونه: د SmartArt پاتې برخه په Shape کې روښانه شوې ده.

Screenshot: د Screenshot په مرسته له خلاصو شويو پروګرامونو يا صفحې څخه تصوير اخيستل کيږي.




د Charts ګروپ:

Charts: د عددونو پرتله (مقايسه) په ګرافيکي بڼه ښيي، د Charts په مرسته وړانديز شوي چارټونه فايل ته راوستل کيږي، څو معلومات په ښه ډول سره وښودل شي.





د Charts له ګروپ څخه د چارټ بېلا بېل ډولونه فايل ته راوستل کيږي.

د Chart Layouts ګروپ:


Add Chart Element: د Chart ته د برخو يا عناصرو زياتولو او کمولو لپاره کاريږي.

Quick Layout: د Chart د ټول شکل (Layout) بدلولو لپاره کاريږي.





Change Colors: د Chart د رنګونو بدلولو لپاره کاريږي.

Chart Style: Chart ته تيار جوړ سټايلونه تري انتخابيږي.




د Data ګروپ:

Switch Row/Column: د Data موقيعت د X له محور څخه د Y محور ته بدلوي.




Select Data: په Chart کې د ښودونکي Data د ساحې انتخابولو لپاره کاريږي.


د Type & Location ګروپ:

Change Chart Type: د Chart د ډول بدلولو لپاره کاريږي.

Move Chart: Move Chart انتخاب شوي چارټ نورو Sheets ته نقل کولو لپاره کاريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







د Current Selection ګروپ:

Chart Element: د Chart د برخو (Element) انتخابولو لپاره کاریږي.

Format Selection: انتخاب شوي Chart Element کې د تغیر راوستلو لپاره کاریږي.

Reset to Match Style: د انتخاب شوي Chart Element تغیرات د چارټ له نورو برخو سره یو ډول کوي.




یادونه: د Chart پاتې برخه په Shape کې روښانه شوي ده.

د Sparkline ګروپ:

Sparkline د چارټ یو ډول دی، چې د معلوماتو پرتله په یوه Cell کې ښیي.





د Filter ګروپ:

Slicer: د Slicer په مرسته د Pivot Table او Table معلومات Filter کیږي.

Timeline: د Timeline په مرسته د Pivot Table معلومات د وخت په اساس Filter کیږي.

د Link ګروپ:

Hyperlink: د Hyperlink په مرسته د فایل په داخل کې له نورو شیټونو یا Defined Names او یا له نورو فایلونو سره اړیکه (Link) جوړیږي.




د Text ګروپ:

Text Box: د Text Box راوستلو لپاره کارول کیږي چې په مرسته یې Sheet کې د خوښې په ځای کې د چوکاټ په داخل کې لیکنه کیږي.

Header: فایل کې د داسې لیکنې لیکلو لپاره کارول کیږي چې د هرې پاڼې په سر کې تکراریږي. د مثال په ډول د کتاب نوم چې په هره پاڼه کې تکراریږي.

Footer: فایل کې د داسې لیکنې لیکلو لپاره کارول کیږي چې د هرې پاڼې په پای کې تکراریږي.


WordArt: د WordArt په مرسته فایل ته WordArt Text box اضافه کیږي.

Signature Line: د Signature Line په مرسته فایل کې د لاسلیک لپاره ځای اضافه کیږي.

Object: د Object په مرسته بل فایل یا پروګرام په خلاص شوي فایل کې Embed (ځای په ځای) کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







د Symbols گروپ:

Equation: د Equation په مرسته فایل کې ریاضیکي معادلې لیکل کیږي.

Symbol: د Symbol په مرسته فایل ته بېلا بېل سیمبولونه راوستل کیږي.




## Page Layout Tab

د Themes گروپ:


Themes: د Themes په مرسته د فایل Themes بدلیږي.

نوټ : Themes دFont, Font Color, Font Size مجموعه ده، چې پر هغه باندې له کلیک سره په فایل کې همغه ډول بدلون راځي.

Colors: د Colors په مرسته د لیکنې لپاره رنگ انتخابیږي.

Fonts: د Fonts په مرسته د لیکنې لپاره شکل انتخابیږي.

Effects: د Effects په مرسته Objects ته ایفیکټ یا ډیزاین ورکول کیږي.




د Page Setup گروپ:

Margins: د Margins په مرسته د فایل لپاره حاشیه برابریږي.

Orientation: د Orientation په مرسته د فایل صفحې په عمودي یا افقي ډول برابریږي.


Size: د Size په مرسته د فایل د صفحو اندازه برابریږي.

Print Area: د Print Area په مرسته Sheet کې د Print کېدلو لپاره ساحه انتخابیږي.

Breaks: د Breaks په مرسته موجوده صفحه پای ته رسیږي او بله پیل کیږي.

Background: د Background په مرسته Sheet ته انځوریز بکراونډ (Background) ورکول کیږي.

Print Titles: د Print Titles په مرسته د پرینټ کېدونکو صفحو لپاره د Header په ډول Rows او Columns انتخابیږي.




د Scale to Fit گروپ:


Width: د Width په مرسته انتخاب شوي معلومات په پراخوالي په صفحو کې برابریږي.

Height: د Height په مرسته انتخاب شوي معلومات په لوړوالي په صفحو کې برابریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Scale: د Scale په مرسته انتخاب شوي معلومات له خپلي اصلي اندازې څخه لوی او یا کوچني Print کیږي.





د Sheet Option ګروپ:

Sheet Right-to-Left: د Sheet Right-to-Left په مرسته د Sheet د پیل طرف له چپ څخه ښي طرف ته بدلیږي.

Gridlines: د Gridlines په مرسته د Columns او Rows ترمنځ کرښې برابریږي، یعني ښکاره او Print دي شي که نه؟

Headings: د Headings په مرسته د Columns او Rows عنوان (Heading) برابریږي، یعني ښکاره او Print دي شي که نه؟




د Arrange ګروپ:

Bring Forward: انتخاب شوی Object له نورو Objects څخه د یو لېول په اندازه پورته وړي.

Bring Backward: انتخاب شوی Object له نورو Objects څخه د یو لېول په اندازه ښکته وړي.

Selection Pane: له Selection Pane سره وړوکې صفحه ښکاري چې په مرسته یې Objects په اسانۍ سره انتخاب او مخکې او وروسته وړل کیږي.


Align: په مرسته یې Objects له Gridline او یا نورو Objects سره برابریږي.

Group: څو انتخاب شوي Objects سره ګروپ یا یو ځای کوي.

Rotate: د Objects کږولو او معکوس کولو لپاره کاریږي.

## Formula Tab

د Function Library ګروپ:




Insert Function: د Insert Function په مرسته موجوده Cell ته Function راوستل کیږي.

AutoSum: د AutoSum په مرسته د انتخاب شویو Cells د عددونو مجموعه ښکاري.

Average: د انتخاب شویو Cells د عددونو اوسط معلوموي.

Count Numbers: د انتخاب شویو Cells د عددونو شمیر معلوموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Max: د انتخاب شویو Cells د عددونو لوړ عدد معلوموي.

Min: د انتخاب شویو Cells د عددونو کوچنی عدد معلوموي.

Recently used: د recently Used په مرسته وروستنی کارېدلې Function راوستل کیږي.

Financial: د Financial په مرسته مالي (Financial) فنکشن Worksheet ته راوستل کیږي.


Logical: د Logical په مرسته منطقي (Logical) فنکشن Worksheet ته راوستل کیږي.

Text: د Text په مرسته Text فنکشن Worksheet ته راوستل کیږي.

Date & Time: د Date & Time په مرسته Date & Time فنکشن Worksheet ته راوستل کیږي.

Math & Trig: د Math & Trig په مرسته ریاضیکي او مثلثاتي فنکشن Worksheet ته راوستل کیږي.

More Function: د More Function په مرسته له پورته ذکر شویو فنکشن څخه غیر نور فنکشن Worksheet ته راوستل کیږي.





د Defined Names گروپ:

Name Manager: د Name Manager په مرسته په Defined شویو نومونو کې تغیرات راوستل کیږي.

Define Name: د Define Name په وسیله انتخاب شوي ساحې ته نوم ورکول کیږي، چې بیا د ساحې د انتخاب پر ځای په Formula کې د ساحې نوم کاریږي.

Use in Formula: د Use in Formula په مرسته د ساحې نوم Formula ته راوستل کیږي.

Create from Selection: Create from Selection انتخاب شویو Cells ته په اتومات ډول نوم ورکوي.




د Formula Auditing گروپ:

Trace Precedents: د Trace Precedents په مرسته د کلیک شوي Cell په فارموله کې کاریدوني ټول د Cells وکتورنو په وسیله په نبنه کیږي.

Trace Dependents: د Trace Dependents په مرسته د کلیک شوي Cell په عدد باندې ترسره شوي فارمولې د وکتور په وسیله په نبنه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Remove Arrows: د Remove Arrows د Trace Dependents یا Trace Precedents په وسیله د راوستل شویو وکتورونو د لرې کولو لپاره کاریږي.**

**Show Formulas: Show Formulas په Cells کې د ترسره شویو فارمولو د نتیجې پرځای خپله فارمولې ښکاره کوي.**

**Error Checking: د Error Checking په مرسته Sheet کې د فارمولو کارونې پر وخت عامې غلطیانې کنټل کیږي.**

**Evaluate Formula: د Evaluate Formula په مرسته د مغلقو فارمولو بېلا بېلې برخې په ترتیب سره ارزیابي (امتحان) کیږي.**




**د Calculation ګروپ:**

**Calculation Options: د Calculation Options په مرسته د فارمولو د ترسره کېدلو ډول ټاکل کیږي، یعنې په اتومات ډول دې ترسره شي او که په Manual ډول؟**

**Calculate Now: د Calculate Now په مرسته د ټول Workbook فارمولې Update کیږي.**

**Calculate Sheet: د Calculate Sheet په مرسته یوازې د خلاص شوي Sheet فارمولې Update کیږي.**

mnoormuslim@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**